safar

# دعا

## څنګه د خدای سره خبرې وکړو

### د پیل ټکی

دې وروستني پینځو مرحلو په هکله فکر وکړئ . کوم یو یې ستاسو دپاره د ټولو نه زیاته ګټه کړې ده؟
آیا کولای شی یو مثال راوړئ چې څنګه دا مرحلې ستاسو دپاره ګټورې وې؟

### بحث او خبرې

دعا ستاسو دپاره څه معنی لري؟

له هغه وخته چې تاسو مسیحي شوي یئ، ستاسو تجربې په دعا کې څه ډول بدلون کړی دی؟

آیا ستاسو په نظر دعا کول آسانه دی؟

کوم شیان په دعا کې ستاسو دپاره سخت او ستونزمن دي؟

### اصلي مفکوره

عیسی مسیح تل دعا کوله. شاګردانو یې لیدل چې هغه څنګه د خلکو څخه ځان لرې کاوه او په شخصي دعا بوختېده. هغوی همدارنګه لیدل چې عیسی څنګه په جمع کې دعا کوله او بلنه یې ورکوله چې د اسماني پلار سره د هغه د خبرو اترو شاهد وي.
شاګردانو په ژوند کې د مسیح د دعا اغېز لیدلی ؤ، نو ځکه یې یوه ورځ له هغه وغوښتل چې دعاکول هغوی ته ورزده کړي او په دې ترتیب یوه شول چې کولای شي خپلې وړتیا ته په دعا کې وده ورکړي (لوقا ۱۱: ۱).

عیسی ځواب ورکړ او هغوی ته یې د دعا کولو نمونه ورکړه چې د هغه څخه پیروي وکړي. مونږ دغه دعا د "رباني دعا "په توګه پیژنو. که څه هم دا دعا لنډه ده. خو زمونږ د ژوند د ټولو ورځو دپاره د خدای له قوته ډکه ده(لوقا ۱۱ او متی ۶).

په دې غوښتنه د شاګردانو سره یو ځای شئ. یوه شېبه وخت واخلئ او دعیسی نه وغواړئ چې دعاکول تاسو ته درزده کړي.

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

متی ۶: ۹-۱۳ په لوړ اواز ولولئ.
کومو جملو ستاسو پام ځان ته راواړوه؟ ولې؟

د یوې نمونې په ورکولو دا دعا زمونږ سره مرسته کوي چې دعا کول زده کړو. راځئ چې د هغې د مختلفو برخو په څېړولو، وګورو څنګه کولای شو، دعا وکړو:

**ای زمونږ پلاره چې په اسمان کې یې، ستا نوم دې مقدس وي.**

- د دعا په پیل کې، یوه شېبه باید وقفه وکړو او په یاد راوړو، زمونږ پلار چې په اسمان کې دی، څوک دی. دا په دې معنی چې هغه نېک، ځواکمن او توانا دی. یو وخت هم د هغه عبادت ته ځانګړې کړئ.

**ستا پاچاهي دې راشي، ستا اراده لکه څنګه چې په اسمان کې سرته رسیږي، په ځمکه کې دې هم سرته ورسیږي.**

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- مخکې له دې چې خپلې اړتیاوې او غوښتنې خدای حضور ته وړاندې کړئ. خپلې غوښتنې او ارادې مو د خدای د نکې او کاملې ارادې سره په ورته لورې کې وکړئ. د هغه د پاچاهۍ راتلل وغواړئ او د هغه نه وغواړئ چې د تاوتریخوالي نه دې ډکه نړۍ ته سوله او سلامتي راوړي.

**زمونږه ورځنۍ ډوډۍ نن مونږ ته راکړه.**

- خپلې اړتیاوې اسماني پلار ته وړاندې کړئ. دا اړتیاوې کولای شي جسماني، عاطفي او یا روحاني وي. هغه زمونږ ټولو اړتیاو ته په درنه سترګه ګوري.

**کلمه وپلټئ**
**(دوهمه برخه)**

**زمونږ قرضونه وبخښه، لکه څنګه چې مونږ هم خپل قرضداران بخښلي دي.**

- کومه ګناه چې مو د خدای په وړاندې کړې ده، اعتراف پرې وکړئ او د هغه نه بخښنه وغواړئ. چیرته چې نورو تاسو ته زیان رسولی وي، د هغوی د بخښلو پروسې ته لاړ شئ.

**مونږ مه ازمایه، خو د بدو کارونو نه مو وساته.**

- په دې توره نړۍ کې له ځښتنه ساتنه وغواړئ، د ژوند په هره ځانګړې برخه کې چې تاسو یې اندېښمن کړي یې، هغه د ځښتن حضورته وړاندې کړئ، په ځانګړې توګه په هغه برخه کې چې احساس کوئ د حملې لاندې راغلي يې.

**ځکه پاچاهي، قدرت او جلال، د تل دپاره ستاسو دی.**

- په اسماني پلار باندې تمرکز کول، عبادت او خپله دعا د هماغه ځای نه چې مو پیل کړې وه، پای ته ورسوئ.

## بحث او خبرې

دغه نمونه څه توپیر لري د هغه دعا کولوسره چې اوس یې کوئ؟ کومه برخه تاسو ته اسانه ده او ستاسو د اوسني ژوند دعا منعکس کوي؟
کومه برخه په خپله اوسنۍ دعا کې د معمول په توګه نه کاروئ؟

ولې د دې دعا د ټولو برخو کارول زمونږ د ژوند د دعا دپاره اهمیت لري؟ څه به پیښ شي که مونږ د معمول په توګه د دې دعا یوه یا دوې برخې په خپله دعا کې وکارو؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

همدا اوس په ګډه دعا وکړئ او د دې رباني دعا ټولې برخې وکاروئ.

- اسماني پلار ته عبادت وکړئ.
- د خدای د ارادې سره سم دعا وکړئ
- خپلې اړتیاوې وغواړئ
- وبخښئ او د خدای بخښنه ومنئ
- د خدای نه ساتنه وغواړئ
- دعا وکړئ

یو د بل سره مرسته وکړئ چې د معمول په توګه هغه برخې چې په دعا کې نه کاروئ، هغه ته مناسبې جملې پیدا کړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- رباني دعا حفظ کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- پخپله ورځني دعا کې، په پشپړه توګه د رباني دعا نمونه وکاروئ.
- خپل د دعا ژوند د ودې څرنګوالي ته پاملرنه وکړئ او څه چې مو زده کړي دي، د یو بل سره یې شریک کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved